ډاکټرعبدالرحمن زماني

د ۲۰۲۰ کال د می ۲۳

## د يوه افغان لخوا د پاکستان د لومړني صدراعظم د وژل کېدو د معما په هکله:

## شپږمه برخه – د زمرک خان په ملاتړ د اولسونو پاڅون

د ۱۹۴۱ او ۱۹۴۳ کلونو تر منځ د دوهمي نړيوالي جګړي له امله د هيواد عام وګړي د سختو ستونزو او مشکلاتو سره مخامخ شوي وو. له يوي خوا د ژوند د لومړنيو اړتيايي موادو نرخونه ډير لوړ شوي، او له بلي خوا حکومت نه يوائې د خلکو د هوساينې لپاره د مرستي هيڅ لازم اقدامات تر سره نه کړل، بلکې د هاشم خان صدراعظم په ګډون د يحيی خيلو خانداني حکومت د خپلو عايداتو د زياتولو لپاره په هيواد کې د جګړي نه د مخکې وخت په بيه د خوارکي موادو د جبري اخيستلو سيستم نافذ کړ او د لرګيو په ګډون يې پر صادراتي توکو نوي دولتي انحصارات او ماليې ولګولې. کله چې په ۱۹۴۳ کال کې وچ کالي هم زياته شوه، نو د پکتيا ځينو خلکو د ژوندي پاتې کيدو د پاره آزاد سرحد ته په پټه د لرګو او وچې ميوې وړلو او د هغې په خرڅولو د خوراکې موادو رانيولو ته مخه کړه.

د شوروي اتحاد د يوه استخباراتي رپوټ په حواله، د حکومت په وړاندې د پکتيا په خلکو کې، په خاصه توګه خوست ته نږدې سيمه کې، عامه نارضايتي او خپګان ډير شوي و. په هماغه رپوټ کې راغلي چې د ۱۹۴۳ کال په ژمي کې د آزاد سرحد پښتنو قبايلو هم يوه جرګه رابللې او ګواښ کړې و چې «که هاشم خان د خوراکې توکو د کمښت ستونزې ته توجه ونکړي، نو د هغه سره به خپل ټول اړيکې وشلوي».1

هاشم خان د ۱۹۴۳ کال د نومبر په مياشت کې د دغې سيمې د خلکو د عمومي پاڅون د مخنيوي د پاره د حربيې وزير، شاه محمود خان، چې د ښه نوم خاوند و، د خبرو اترو د پاره واستولو، خو د هغه دغه سفر څکه کومې نتيجې ته ونه رسيد، چې د سيمې د خلکو استازو په يوه ژبه د لرګو په تجارت د دولتي انحصار لغوه کيدل غوښتل.

د دسمبر په مياشت کې د وزيرو قام د هاشم خان سره د خبرو د پاره کابل ته يو استازي واستولو، خو لکه چې اټکل کيده دغه سفر پرته له کومې نتيجې پاي ته ورسيد. تر هغې وروسته ۱۹۴۴ کال د فبرورۍ په مياشت کې د غرونو او سيدونکو په ارګون کې د غنمو پر دولتي ګودامونو حمله وکړه او هغه يې تالا کړل.2

---

[1]. د بهرنيو استخباراتو د اداري آرشيف، د قبايلو دوسيه، لومړي ټوک، 246 مخ. د ستالين افغاني جګړه (تيخانف) د آريانفر ژباړه

[2]. هماغه ځاي 247 مخ.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزي بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

**د زمرک خان ببرکزي پر کلاوو د حکومت حمله د خلکو د قهر پر اور د تیلو شیندل**

د ۱۹۴۴ کال د فبرورۍ د میاشې په لومړیو ورځو کې، کله چې د تازه ګل تر مشرۍ لاندې د سرحدي قواوو د څو عسکرو لخوا د ځدراڼو د لرګیو د کاروان د مخنیوي د اخ او ډب په نتیجه کې څو تنو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته، نود هغې په سبا جنرال فیض محمد خان (د جنوبي د فرقې قوماندان) د پیاده عسکرو او توپخانې په ملاتړ د پیښې سیمې ته لاړ او د عسکرو د وژونکو نه یې وغوښتل چې ځانونه تسلیم کړي. خو د منفي ځواب په اخیستلو سره، هغه د کلیوالو پر کورونو د توپونو ډزې وکړې. د ځدراڼو ځینې کسان د دولتي عسکرو لخوا ونیول شول، ځینې یې له ویرې د وزیرستان غرونو ته وتښتیدل او نور یې په خپلو کورونو کې پاتې شول. د فیض محمد خان عسکر هم د پښتني رواجونو او کلتور او شرعي ارزښتونو پر خلاف کلو ته ننوتل، د خلکو سره یې بد چلند وکړ او هغوی یې و ځورول.

په دولتي کړیو کې د شوروي استخباراتو د یوه ایجنټ د ریوټ له مخې، د جنوبي ولایت د حالاتو خبر «پر حکومت باندې غم لړلې اثر درلود». ظاهر شاه د پیښې شوي وضعیت د څېړلو او ښه او بد د معلوملو په مقصد سمدلاسه، د ۱۹۴۴ کال د فبرورۍ په ۱۲ مه نیټه، یوه غونډه جوړه کړه چې په هغې کې د شاهي کورنۍ او دولت لوړ پوړو غړو هاشم خان صدراعظم، سپه سالار شاه محمود خان د حربیې وزیر، داؤد خان د قوای مرکز قوماندان او نعیم خان د صدراعظم مرستیال ګډون درلود.

شاه محمود خان چې تر نورو د پښتنو قامونو د دغه سیمې پر وضعیت ښه پوهیدو، ټینګار کولو چې حکومت دې د روغې جوړې له لارې د دغه لانجې د پاې ته رسولو هڅه وکړي. ظاهر شاه او هاشم خان هم د دغه وړاندیز منلو ته تیار وو. خو، داؤد خان سختۍ او قاطعیت سره د هر راز بخښنې او پرشا تګ سره مخالفت وکړ. هغه وویل چې د دولت پر وړاندې دغه اقدام باید بې ځوابه پاتې نشي او هغوی ته باید سزا ورکړ شي. هغه د مخالفینو د ټکولو دپاره خوست ته د نورو عسکرو د لیږلو غوښتنه وکړه.

د شاه محمود خان او داؤد خان تر منځ لفظي شخړه د داؤد خان په ګټه تمامه شوه. پاچا او صدراعظم، سره لدې چې چنداني د سختو وسیلو نه د کار د اخیستلو پلویان نه وو، بیا هم فیصله وکړه چې شیې تر شیې خوست ته درې غونډه عسکر، توپخانه او شپږ عرادې زره پوش ګاډي واستوي. د ټکولو د دغه عملیاتو عمومي قومانده داؤد خان ته وسپارل شوه.3

دخوست د ځدراڼو دغه حالت بیا حکومت ته د زمرک خان د نیولو بهانه او د غچ د اخیستلو زمینه برابره کړه. لومړې د کابل د قوای مرکز د قوماندان، سردار داؤد خان، په امر په چل ول د هغه د نیولو ناکامه هڅه وشوه، او تر هغه وروسته د دوې پر کلاوو او کورونو د حملې امر ورکړ شو، کوم ته چې مخکې اشاره شوې ده. د ځدراڼو د قومي مشر زمرک خان ببرکزي پر کلاوو د حکومت حمله د خلکو د قهر پر اور د تیلو د شیندلو په شان و.

---

[3] . په کابل کې د شوروي استخباراتو د ایجنټ د ۱۹۴۴ کال د فبرورۍ د میاشتې د ۲۲ مې نیټې ریوټ، هماغه ځای ۲۵۰ مه پاڼه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**د جنوبي د اولسونو ملاتړ او پاڅون**

له يوې خوا د ببرک خان ځدراڼ پر ځامنو د حکومت حمله، له بلې خوا خوست ته د نورو قواوو ليږل او د حکومت ظالمانه اقدامات د ځدرانو قوم چې لا د مخه يې د نورو ذکر شوو عواملو له کبله د صبر او زغم کاسه نوره سر ته رسيدلې وه، عمومي پاڅون ته مجبوره کړ. پدې توګه اوس نو تر وزيرو وروسته د ځدرانو لوی او په وسله سمبال قوم هم د حکومت د مخالفينو په کتار کې ودريد.

**له ديني عالمانو د جګړې د فتوی اخيستل**

د ببرک زي د کورني يادداشتونو له مخې ددوی پر کورونو د لوامشر جعفر خان په مشرۍ د عسکري قواوو د پوځي يرغل نه وروسته، زمرک خان او شيرمحمد خان ببرکزي د ځدرانو د سپيرې ولسوالی له ديني عالمانو څخه له يرغلګرو سره د مقابلې په اړه فتوی او شرعي جواز وغوښت. عالمانو د مقابلې کولو او خپل حريم د ساتلو فتوی ورکړه او ورته يې وويل چې تاسو د خپل سر او مال او ناموس څخه دفاع کولای شئ. تر فتوی اخيستلو وروسته شير محمد خان ببرکزي د ځدرانو د يوه ستر لښکر سره خپل کلي ګيډورې ته راغی او د لوامشر جعفر خان د قواوو په مقابل کې سخته جګړه پيل شوه چې شل ورځې يې دوام وکړ[4]

تر دې وروسته نو د ځدرانو د قوم مشر، زمرک خان مجبوره شو چې د ځواکمنو وسله والو پاڅون کوونکو مشري په لاس کې ونيسي، او نورو ګاونډيو قومونو لکه منګلو، تڼيو او صافيو يې هم ملاتړ وکړ. د ټولو دغو جنګياليو شمير لس زره کسانو ته رسيدو، او په لومړيو جګړو کې يې دولتي عسکرو ته درنه مرګ ژوبله واړوله.[5]

**د سردار داؤد خان د پوځي اقداماتو ناکاميدل**

لکه چې شاه محمود خان اټکل کړی و، د ځدرانو او د هغوی د ملاتړو قومونو په وړاندې د منظم پوځ اقدامات نه يوازې د کابل په وړاندې د پښتنو دښمني زياته کړه، بلکې په هيواد کې يې د عسکري خدمت (نفوس د تذکرو) نوې اعلان شوې پاليسي هم د ماتې سره مخامخ کړه. پر دې سربيره هغوی د غلو دانو د اجباري خريدارۍ د بدلولو او ماليې د کمولو غوښتونکي شول. د شينوارو، صافيو، خوګيانيو او تڼيو قومونو هم خپل استازي ګاونډيو قومونو ته واستول او د حکومت په وړاندې د ګډو اقداماتو غوښتونکي شول. شاه محمود خان د دوی د يوځای کيدو د مخنيوي دپاره د مشرقي ولايت ته د دغو استازو د نيولو امر وکړ، خو څرنګه چې دې کار پښتانه نور هم وپارول، نو له بدې ورځې يې دغه بنديان هم خوشې کړل.

شاه محمود خان چې د قومونو مشرانو سره د جرګې کولو واک نه درلود، په عاجله توګه هاشم خان ته خبر ورکړ چې له نظامي پلوه برې امکان نه لري، ځکه چې د شمير او ټوپکو له مخې د پښتنو ټولګي په جنوبي سيمه کې له دولتي عسکرو زيات دي.

---

[4] . غروال، محمد عارف. د غازيانو او اتلانو ياد، ۲۳۳ مخ.

[5] . په کابل کې د شوروي استخباراتو د ايجنټ د ۱۹۴۴ کال د فبروري د مياشتې د ۲۲ مې نيټې رپوټ، ۲۵۰ مه پاڼه، د ستالين افغاني جګړه (تيخانف (د آريانفر ژباړه).



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

هاشم خان د مارچ د میاشتې په لومړي سر کې د زمرک خان د پاڅون د پراخه ګوابښ سره د مقابلې د پاره شاه محمود خان ته لارښونه وکړه چې د جګړې د پای ته رسولو په مقصد د قوم مشرانو سره خبرو اترو ته ورمخکې شي. هاشم خان ومنله چې د دوی پر وړاندې پر شا لاړ شي. حکومت د لرګیو په تجارت دولتي انحصار لرې کړ، د آزاد بازار په نرخ یې د غنمو اخیستلو ته اجازه ورکړه، او په عسکري خدمت کې یې د هغوی ګډون هم کم کړ.

**د خانداني حکومت لخوا ولسي مشرانو ته د بډو او رشوت ورکول**

هاشم خان قومي مشرانو ته د بډو او رشوت د ورکولو په مقصد له کابله شاه محمود خان ته څو ملیونه افغانۍ هم واستولې. شاه محمود خان د دغه پیسو او د دوی په چارو کې د حکومت د نه لاسوهنې د ضمانت، او پر کوچیانو د مالیې د کمولو په مرسته د ۱۹۴۴ کال په پسرلي کې بریالی شو چه د سرحدي قبایلو د عمومي پاڅون مخنیوی وکړای شي.

د ځدراڼو مشرانو ته هم د شاه محمود خان په نمایندګۍ یو هیئت واستول شو، چې ټولو جنګیالیو ته یې د بخښنې او د دولتي عسکرو د تیرې له امله د رسیدلي تاوان د ورکولو وعدې ورکړ شوې. زمرک خان ته هم وعده ورکړ شوه چې د پخوا په شان به د ځدراڼو مشر پاتې شي، خو هغه وسله په ځمکه کینښوده او اعلان یې وکړ چې «او سني حکومت هیڅ د اعتبار وړ نه دئ نو ځکه د هغې وعدې، چې د خلکو د غولولو پر بنسټ ولاړې دي، او هیڅ ګټه نه لري، منلې نه شي. دا د خاینانو حکومت دئ چې حیثیت، شرف او وجدان نه لري». 6

شاه محمود خان د دغه ځواب په لاسته راوړو بله ورځ عسکرو ته امر وکړ چې د ځدراڼو د اصلي قوتونو په مرکز، د المرې پر غره حمله وکړي، او هغه و نیسي، سهار د دواړو خواوو تر منځ سخته جګړه پیل شوه، د منګلو لښکرې د زمرک خان مرستې ته راورسیدلې او په ګډه یې دولتي قواوو ته ماتې ورکړه.

د دغه بریالیتوب خبر په چټکۍ سره د ډیورنډ د کرښې د دواړو خواوو او سیدونکو قامونو تر منځ خپور شو. سلیمان خیلو هم د زمرک خان څخه خپل ملاتړ اعلان کړ. د شمالي وزیرستان د مادا خیلو په ګډون وزیر هم د زمرک خان سره ملګري شول او پدې شان د تنیو او دره ګي د سیمو میشت قبایل هم. د پاڅون کونکو د ټولو لښکرو شمیر تر (۱۸۰) زره جنګیالیو واوښت. د آزاد سرحد وزیرو او مسعودو هم په وزیرستان کې جرګه وکړه چې د ځدراڼو مرستې ته ورودانګي، خو د بریتانیا د حکومت له خوا د وزیرستان د کلو د بمبارۍ سمدستي ګوابښ د دغه کار مخه ونیوله.

په افغانستان کې دننه وضعیت نور هم کړکیچن کیدو، او د یحیی خیلو د خانداني حکومت په وړاندې د یوه عمومي پاڅون تهدید ورځ په ورځ زیاتیدو. د ګردیز تاجیک او سیدونکي هم د زمرک خان سره ملګري شول. پدې ترڅ کې د اپریل او می په میاشتو کې د غلام محمد خان په مشرۍ او د افریدیو او شینوارو په ملاتړ د امانیستانو

---

[6] . د جنوبي د وضعیت ترنامه لاندې په کابل کې د شوروي اتحاد د میشت ایجنټ د 1944/5/21 نیټې رپوټ، هماغه ځای ۲۵۲ مخ .

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لس زره کسيز يو لښکر هم جوړ شو، خو دغه لښکر ډير ژر ماتې وخوړه او د غازي امان الله خان پلويان هم د زمرک خان سره ملګري شول.7

**د خانداني حکومت د زور او زر نه د استفادې پاليسي**

هاشم خان چې د کورني سياسي بحران د لمنې خپريدو سخت انديښمن کړی ؤ، خوست ته سمدلاسه د ګرديز نه د دوه لښکرو او دولس جنګي الوتکو د ليږلو امر وکړ. په کابل کې احساس کيده چې دا قواوې به د پاڅون د ځپلو د پاره کفايت ونکړي، نو ځکه په هيواد کې د عمومي سفربرۍ اعلان هم وشو.

په تيرو وختونو کې په پلازمينې باندې د پښتنو قبيلو د حملو تاريخ ته په پام سره، هاشم خان د کابل په شاوخوا مورچلو کې د نوي ګمارل شوي واحدونو د ځای پر ځای کولو امر وکړ. هغه شاه محمود خان ته هم امر وکړ چې سمدلاسه د زمرک خان پر ډلو بريد وکړي. پدې برخه کې پر ځدرانو د بريد د پاره، شاه محمود خان ارګون، ګرديز او خوست کې د پام وړ ځواکونه راټول کړل. د ۱۹۴۴ په اپريل کې، شاهي هوايي ځواک د ځدرانو پر کليو بمبارۍ پيل کړې.

شاه محمود خان د جنګي عملياتو د پيل کولو لپاره بيړه نه کوله. ځکه چې ځدرانو سره د لومړنيو جګړو په جريان کې دا ځرګنده شوه چې افغان سرتيري نه غواړي د خپلو هيوادوالو سره جګړه وکړي. دا خطر هم و چې د وزيرستان قبايل هم ممکن د زمرک خان سره يو ځای شي. له همدې امله، د افغانستان حکومت جنرال پير محمد خان د وزيرو د مشرانو پيرلو لپاره د زياتو پيسو سره وزيرستان ته واستولو.

پير محمد خان په لومړي ګام کې د يوه متنفذه وزيرستاني مشر، زنګي خان څخه د يو مليون افغانيو بډو په بدل کې مرسته وغوښته، ترڅو هغه دې ته وهڅوي چې د ځدرانو مشر له خپلې سيمې څخه لرې کړي. خو زنګي خان په وياړ سره ځواب ورکړ چې «د پيسو له امله، هغه نه غواړي خپل عزت او وقار ته زيان ورسوي، او خيانت او سپکاوی وکړي».8

پيرمحمد خان بيا هغه ته د دوه مليونه افغانيو وړانديز وکړ. خو هغه لا هم د نه ځواب ورکړ. د افغانستان حکومت هيڅکله هم د کوم پاڅون لپاره د دا ډول اضافي پيسو وړانديز کړې نه و.

**د حکومت لخوا پر ايپي فقير فشار راوستل**

دا لومړی ځل و چې د شاهي کورنۍ تګلاره د داسې غندنې او عمومي کرکې سره مخ شوه. آن ديني عالمانو او قومي مشرانو چې په تيرو وختونو کې يې له دولت سره دوستانه اړيکې درلودې د جنوبي او ختيځ ولايتونو په ځپلو کې له مرستې ډډه وکړه.

---

7. هماغه ځای، ۳۲۲ مخ، له کابل څخه د ۱۹۴۴ کال د مۍ د مياشتې رپوټ.

8. د جنوبي د وضعيت تر نامه لاندې په کابل کې د شوروي اتحاد د ميشت ايجنټ د 1944/۲/۲۲ نيټې رپوټ، هماغه ځای ۲۸۱ مخ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د بهرنيو چارو وزارت هم شمالي وزيرستان ته خپل استازي ولیږو ترڅو د ايپي فقير سره خبرې وکړي. ده له ايپي فقيرڅخه وغوښتل چې د زمرک خان زامن يرغمل ونيسي. دا څرګنده ده چې د کابل استازي د دې خدمت لپاره پريمانه انعام ورکولو ته چمتو ؤ، خو د ايپي فقير د ځدراني مشر د زامنو د يرغمل نيولو څخه انکار وکړ.9

**د انګريزانو نه د خانداني حکومت د مرستې غوښتل**

هاشم خان د برېتانوي هند د حکومت نه وغوښتل چې د افغانستان د جنوبي سيمې د پاڅون کوونکو سره د وزيرستان د قومونو د يو ځاى کېدو مخه ونيسي، او له دوى يې وغوښتل چې پر وزيرو زور راولي تر څو د زمرک خان سره د مرستې د کولو څخه ډډه وکړي. په کابل کې د برېتانيا سفارت د خپل حکومت په استازيتوب هاشم خان سره ژمنه وکړه چې د آزاد سرحد قبايل به د ځدرانو سره مرسته نه کوي.

برېتانيې همدا سې وکړل. ځکه چې غوښتل يې د هاشم خان انګريز پلوه حکومت په قدرت کې وساتي. د جولاى په مياشت کې، سکوئير د انګلستان سفير په کابل کې د شوروي سفير باکولين سره په يوې ناستې کې، د زمرک خان د پاڅون په نتيجه کې د برېتانوي هند او افغانستان پولې ته څېرمه وضعيت په دقيق ډول تشريح کړ چې« اوس د قبايلو ترمينځ دوه څيرې موجودې دي، په افغانستان کې زمرک خان او په هند کې د ايپي فقير. زمرک خان د افغان حکومت پرورېاندې مبارزه کوي او د ايپي فقير د انګلستان د حکومت پر ضد جنګيږي. فقير او زمرک کولى شي د افغان حکومت پروړاندې په مبارزه کې سره يو ځاى شي، او بيا به قبايل د حکومتي سرتيرو په پرتله قوي وي. د قبيلو ځواک هرچا ته ځرګند دى. نادر شاه په همدې زور سره د سقاو زوې ته ماتې ورکړه. دا چې امان الله په تخت پاتې نشو، علت يې هم د هغه پر وړاندې د قومونو پاڅون و».10

د هاشم خان د انګليس پلوه حکومت د ژغورلو لپاره، د هند د شمال لويديځ سرحدي ايالت والي د وزيرستان د قومونو په مشرانو غږ وکړ چې د بنو ښار ته راشي او په تهديد او تطميع يا ګواښ او بډو سره يې مجبوره کړل ترڅو د افغانستان په پيښو کې د دوې نه مداخلت يقيني کړي. خو دې سره سره، وزيرو په خپله سيمه کې د ځدرانو کورنيو ته پناه ورکړه.

(نور بيا )

9. د بهرنيو استخباراتو د اداري آرشيف، د افغانستان د قبايلو 31252 شميره دوسيه، ۲۵ مخ. د ستالين افغاني جګړه (تيخانف)، (د آريانفر ژباړه)

10. د آزاد سرحد د دواړو لورو د قبايلو په طاقت کې څه شک نشته، خو د انګريزانو سفير د خپل هيواد د توطئو او دسيسو په هکله څه ويلي نه دي او پټه خوله پاتي شوې دئ.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ